

# د پښتونخوا وړومبۍ وزیره ستاره ایاز

منور سلطانه ایم پي اې

ستاره ایاز زۀ د ډېر وخت نه پېژنم، هغه زما ډېره ښۀ ملګرې ده، دا قدرتي خبره ده چې زمونږ خیالونه، سوچونه، ذهني هم آهنګي او مینه وه. زۀ کۀ د خپل سیاسي ژوند پرمختګ کښې د ستاره ایاز د مرستې ، ډاډګیرنې ذکر ونه کړم نو دا به زیاتے وي، هغې هر ځائے کښې زما ملګرتیا کړې ده او ما د هغې ملګرتیا کړې ده. مونږ دواړو یو بل ته د خلوص او د اخلاص لاس ورکړے او په خپله پښتو مو یقین دے. مونږ هر کله یو بل سره درد او خوشحالۍ شریکې کړې دي. د دوه زره اتۀ الیکشن ؤ، د الیکشن هلې ځلې شروع وې، سړي او زنانه د انتخاباتو په هلو ځلو کښې ناوزګاره وو، دهر چا ډېوټیانې لګېدلې وې، زۀ ستاره او سکینه رحمان به یو ځائے ګرځېدو، هغه وخت زمونږ نایب صدره ستاره وه، ما چې ځومره دا جینۍ لوسته، ماته په دې کښې د ډېر ښۀ انسان خوبیانې ښکارېدې. دا ډېره مهربانه، مینه ناکه او مخلصه ښځه ده، د غرور، تکبر نه عاري زما دا خوږه ملګرې د خپل نوي منزل طرف ته روانه وه، هېڅوک خبر نۀ وو، چې زمونږ دا ملګرې چې نن مونږ سره په ګپو شپو کښې ده، د سبا د پښتونخوا وزیره ده، د سپرلي ښایسته موسم ؤ، مونږ د انتخاباتو تیاریانې کولې، په باران کښې به هم ډېر ګرځېدو، مونږ د هر څۀ نه بې نیازه په باد باران کښې هلې ځلې جاري ساتلې.

یوه ورځ مونږ چارسدې ته تلي وو، سخته یخني وه، باران ورېدو، ډېرې ښځې راغونډې شوې وې، ښځو وئیل مونږ به واپس لاړې شو، تاسو بیا په شین اسمان کښې راشئ، خو زمونږ جذبې ځوانې او ګرمې وې، مونږ ورته ووئیل تاسو زمونږ دوه درې خبرې واورئ بیا ځئ، مونږ خبرې وکړې، خو

چې ګاډي پورې راتلو نو باران زمونږ ښه مېلمستيا کړې وه، پـه لاره مـو لطيفـې وئيلـې، شعرونه مـو وئيل، يو بل پورې مو ډرامې کولې، يوه ورځ چې مونږ صوابۍ ته تلو، زهٔ، ستاره او سکينه وو، ګپ شپ مولګوو، چې ما به ستارې ته کتل نو دا به ماته ډېره د رتبې خاونده ښکارېده، ما به دې تـه خندل چې تهٔ راتـه د مستقبل وزيره ښکارې، هغې به وئيل ولې تهٔ بزرګه يې څهٔ، دا څنګه کېدے شي، ما ورتـه وئيـل چې زهٔ پيشګويي کوم چې تهٔ د مستقبل وزيره يې او تهٔ په ډايرۍ کښې نوټ کړه، چې هېر درنه نهٔ شي. سکينه هم ناسته وه، هغه هم ګواه شوه. ما ورته ووئيل کهٔ تهٔ وزيره شوې نو ماله به انعام راکوې او کهٔ وزيره نهٔ شوې نو زهٔ به جرمانه درکوم. مونږ شرطونه کېښودهٔ، اليکشن نزدې ؤ، ټول ناوزګاره وو، اخوا اليکشن وشو او اې اين پي په اکثريت کښې راغله، بيا د حکومت جوړولو مرحله راغله، وزيران وټاکلي شو، د ستاره اياز نوم هم د وزيرانو په فهرست کښې راغلو او بيا په ګورنر هاؤ س کښې وزيرانو د خپلو عهدو چارج واخستو، هر طرف خوشحاله خوشحالي وه، هر څوک په دې خوشحاله وو، چې پـه ډېـر وخـت پس د خدايي خدمتګارو حکومت جوړ شوے ؤ، بيا ما ستارې ته ووئيل چې جينۍ شرط خو ما وګټلو، اوس انعام راکوې او کهٔ نهٔ، هغې وخندل او وئې وئيل ماته خپله وعده ياده ده، خو په دې لحاظ ستاره اوس هم زما قرضداره ده، خو د ستارې چې زهٔ څومره ستاينه وکړم، هومره کمه ده، ځکه چې په دې ښځې کښې ما ډېرې خوبيانې وليدې. د سېلاب په ورځو کښې په نورو بدو ورځو کښې ما د دې ښځې زړورتيا، د پښتون قوم دپاره درد او هلې ځلې وليدې، د هر ځائے نه فنډ راغونډ کړے او دې خلقو له يې رسولے دے، دې دردمندو خلقو سره يې درد شريک کړے او کوشش يې دا کړے چې د دې خلقو په اوښکو او زخمونو کښې تر خپله وسه کمے وکړي خو ستارې دا



ثابته کړه چې يوې زنانه ته داسې مقام حاصل شي هغه د سړو نه زيات په ايمانداري، محنت او خلوص کار کوي، د قوم دپاره نېکې جذبې لري او د قوم خدمت په صحيح معنو کښې کول غواړي، داسې ستارې هم ځان له يو ځلانده تاريخ پرېښود او خپل ذهانت او قابليت يې په ټولو ومنلو، خدائے پاک دې زما دې خوږې ملګرې له همت، صحت او ډېر لوئے عزت ورکړي چې د قوم خدمت هم په داسې نېکو جذبو او مينې سره کوي او د ښځو مرام او چټولو کښې اهم کردار ادا کړي. امين

کهٔ ننګيالي زلمي په شا شول
ګرانه وطنه جينکۍ به دې ګټينه